تاسې کې دې هېڅوک داسې نه وايي چې: اې الله! که خوښه دې وي نو بخښنه راته وکړه؛ که خوښه دې وي رحم راباندې وکړه؛ که خوښه دې وي رزق راکړه، بلکې خپله غوښتنه باید په ټینګه وکړي، ځکه الله تعالی هغه څه کوي چې هغه یې غواړي، هېڅوک یې مجبورولی نشي

له ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «تاسې کې دې هېڅوک داسې نه وایي چې: اې الله! که خوښه دې وي نو بخښنه راته وکړه؛ که خوښه دې وي رحم راباندې وکړه؛ که خوښه دې وي رزق راکړه، بلکې خپله غوښتنه باید په ټینګه وکړي، ځکه الله تعالی هغه څه کوي چې هغه یې غواړي، هېڅوک یې مجبورولی نشي». او د مسلم روایت دی چې: «غوښتنه دې په ټینګه وکړي، او هیله (او امید) دې لوی وساتي، ځکه هېڅ شی الله تعالی ته په عظمت نه قائلېږي مګر دا چې هغه یې ورکوي».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم لدې منع فرمایلې ده چې دعا ته له څه شي سره ټراو ورکړل شي، که څه هم د "الله تعالی مشیئت وي؛ ځکه جوته ده چې الله پاک بخښنه نه کوي مګر چاته چې وغواړي، نو د مشیئت شرط اېښودل هېڅ معنا نه لري، ځکه دا شرط یواځې له هغه چا سره اېښودل کېږي چې له خوښې پرته پرې په مجبور سره یو کار تر سره کېږي یعنې هغه یې نه غواړي، حال دا چې الله تعالی له دې او هر ډول نېمګړتیاوو څخه پاک دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیث په پای کې جوته کړې ده چې هېڅوک الله تعالی مجبورولی نه شي، همدارنګه، الله ته د هېڅ شي کول سخت ندي، ځکه هغه ناتوان نه دی، چې ورته ووایو: "که غواړې چې فلانی شی راکړې نو رایې کړه. ځکه د مشیئت یادونه داسې ښکاري لکه د الله تعالی له بخښنې څخه ځان مړه خوا ښودل لکه چې اړتیا ورته نه وي، نو د ویونکي دا وینا چې وایي: که غواړې نو رایې کړه؛ هغه مهال کارول کېږي چې یا خو هغه کس نه بې نیازه یې، او یا خو هغه ناتوانه وي، خو څوک چې قادر وي او اړتیا ورته وي، نو هغه ته خپل حاجت لوی ښودل کېږي او د یو بې وزله انسان په توګه تري سوال کېږي، او هغه ته پناه وړي، ځکه هغه غني (بې نیازه)، کامل، او پر هر څه قادر ذات دی.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5978